د کتاب نوم : ستا یاد ، زما ملګری (شعري ټولګه)

شاعر : بشیر ګواښ (بابک)

چاپ کال : ۱۳۸۵ لمریز

کمپوزچارې : جاویداحمد همیم

اوډون : راحت ګل زیارمل

چاپ زیار : عطا محمد هیله من او عبدالله سهار

اړیکې :

hajrulaswad@gmail.com
۰۰۹۳ (۰) ۵۴۹۵۶۰۷۰

www.Ketabtoon.net

غزلونه :

ژوند ختمیدونکی ، ژوند ته پای موجود دئ
له دي معلومه شوه چي خدای موجود دئ

زما د مور د یاد له نوره ډک دئ
زما سینه کي داسي ځای موجود دئ

•••

په (خونخوارو لارو) ځمه نه ویرېږم
ستا یاد زما ملګری دئ ، مورجانې

تا چي پرېښودمه لاړې ،دغه غم
له هغه وخته راغلی دئ مورجانې

ماشوم خیال به مي تښاکي پښي راشي
ستا لټون پسي وتلی دئ ، مورجانې

اوس د خلکو مخ کي تا پسي نه ژاړي
اوس دا ستا بشیر غټ شوی دئ ، مورجانې

•••

زه ځان کي دېره يمه ، زه په زړه کي اوسمه
زه بلا يوازي يم ، زه په زه کي اوسمه

خاوري يم د حسن ، د ښکلا کوڅو کي خور يمه
بيا هم بختور يمه ، ديار په پله کي اوسمه

ستا د زړه درزا کي انعکاس د ميني وينمه
ځان په کي بيا بيا اورمه ، داسي غره کي اوسمه

اوښکه يم د سترګو په درشل باندي ولاړه يم
زه لکه سوالګر ماشوم ، تل په زړه کي اوسمه

•••

يو هنرمندد شپي کوي دڅا دهجر کيسې
هري سندري ته يې ، نام خدا ، وايمه زه

منم يولفظ يي هم زما ، پر ګټه نه دئ خو بس
بيا هم خبري ته يې ، نام خدا وايمه زه

دپير کيسه کي نه يم ، نه يمه قايل دزيارت
خو منجوري ته يې ، نام خدا ،وايمه زه

دګواښ له غم نه هم بلا غمونه زړه کي ساتي

ځکه ملګري ته يې ، نام خدا ، وايمه زه

•••

چي يي ده خواکي دکوچيانو کيږدۍ خړه پړه
پروت مو شهيد دئ په همدغه غونډۍ خړه پړه

دخپل سپين غر له دغو سپينو واورو ځار شمه زه
چي مقابل کي يي ده سپينه مانۍ خړه پړه

خدايږو يوه لحظه مي نه وځي له خياله ځينې
ها د سرک منځ کي ولاړه جلۍ خړه پړه

بېګا هغي سپيني کونتري راته داسي ويل
بغير له تابه وي دا ټوله نړۍ خړه پړه

دادبشير دقبر نښه ده چي هېره يي نه کړئ
دصبر ونه پري ولاړه نرۍ خړه پړه

•••

خال دجبين خلک له کاره باسي
تور لونګين خلک له کاره باسي

زړګيه پام کوه دوکه پري نه شې

دا سره او سپين خلک له کاره باسي

ښکلي يوازي زمانه خوښيږي
دپاخه دين خلک له کاره باسي

يار په وعده باندي وفا نه کوي
هر ماسپښين خلک له کاره باسي

خدای دي داښکلي کړي بدرنګه ګواښه!
وايه امين خلک له کاره باسي

•••

زړه زما کتاب غونډې
دا پکي ګلاب غونډې

ژوند درته معنی کړمه!؟
ژوند دئ د عذاب غونډې

زه د سري غرمي په شان
ته لکه ماهتاب غونډې

زما په غزلونو کې
ته يي اضطراب غونډې

زه دا ستا د سوال په شان
ته زما ځواب غونډې

ساه کې مې خوره شي ، چې
غږ وکړي رباب غونډې

ته دوکه او چل فریب
ته لکه سراب غونډې

•••

دشنو ونو ځنګل وی او نری نری باران وی
یو ته راسره مل وی ، او نری نری باران وی

هغه مابه چې ښکل کړلې ، تابه سترګې کړې ټیټې
بس ، همغه لمحې تل وی او نری نری باران وی

خلاص به نه وای دغه جنګ ، هم دافغان جنګ په شان
چې زما او ستا کتل وی ، او نری نری باران وی

بختورشانته ماښام وی ، جنتي شان راز ونیاز وی
ته نصیب مې له ازل وی ، او نری نری باران وی

غیږه ستا وی له ماتاوه زما ستانه خوږه یاره
موږ په یو اوبل کې حل وی او نری نری باران وی

•••

چې په سرو وینو کال د درد پاتې دئ
لا مې سینه کې حال د درد پاتې دئ

له دې نه پس به نه ورځم نه به یې زه راغواړم
دابه قبوله کړم ، خو دلته سوال د درد پاتې دئ

له اوښکو ډکې لوټې شوې سترګې ، زړه او هجر
ملګرو ماسره بس دغه ، مال د درد پاتې دئ

بیګا اسمان ژړل نن لمر په تیندکو راوخوت
لا پوره شوی نه دئ لا خو کال د درد پاتې دئ

چې د دردمنو زړه ته سر ښکاره کوې بشیره!
زما په سترګو کې خو دا کمال د درد پاتې دئ

•••

رایې وړه له قافه منتر سترګو کې
یو په بل پسې یې بدتر سترګو کې

بیا یې جوړ تصویر درنو اوښکو کړ
بیا یې دئ راوړی هنر سترګو کې

نن چې یې په شونډو مسکا راغلله
ځان سره یې راوړ اختر سترګو کې

سرې دې له خماره له مستۍ ځینې
ته وا ، چپه شوی ساغر سترګو کې

امن به دسترګو په جنګ راولو
دروغ دې ، دلته نشته دئ شر سترګو کې

هر ځای کې به تاوینمه مینه ستا
څو پورې چې وې مې نظر سترګو کې

•••

نه شینکی چینار شته دئ ، نه شینکی ګودر شته دئ
نه دبنګړو شور شته دئ نه مست مازیګر شته دئ

نه خندا دپېغلو شته نه دشاه زلمو اتڼ
نه هم شپه دقدر شته نه ورځ داختر شته دئ

نه کړې پر بلۍ غومبر ها سپینه کوتره اوس

ژبه خوله کې نه لري ، نه يې سپين وزر شته دئ

نشته داختر مېلې ، نه دبوډۍ ټال شته دئ
نه دچا لاسونه سره ، نه يې شال په سر شته دئ

دلته ځای پر ځای دئ جنګ فصل دسرو ربېي
نه دميني تخم شته نه دميني کر شته دئ

اوس چې مي مور نشته دئ ،دعاوي يې چې نه لرم
نه پرلار محفوظ يمه ، نه مي کور کې ور شته دئ

•••

يو څوک په خوب کې راشي راته غاړه راکوي
تحفه کې راله زړه او مينه دواړه راکوي

تري غواړم به باران ،شېبې د وصل ،ښکلی يار
قبول به زما سوال شي خدای به واړه راکوي

له سر نه تر پښو پوري سرود شمه سرور شم
چې خوله راته جانان دسيند په غاړه راکوي

اشنا رانه زړه اخلي خو پرېږدي راته غمونه
بدل کې د ابادي راله شاړه راکوي

منمه نابلد یم دسپوږمۍ سره ملګرو
خو ښکلی مخ دیار یې راله ژباړه راکوي

•••

داځو ورځې مې زړه ته یوه خبره ځي راځي
پسته پسته خوږه لکه سندره ځي راځي

ډېوې کړي ورته بلې او یو ځو اوښکې پرې توئ کړي
زیارت ته هره ورځې منجوره ځي راځي

دچا په انتظار ده که امېل یې دئ ورک کړی
په هر قدم ودرېږي تر ګودره ځي راځي

داپېغله خو کټ مټ ده لکه خور دملالۍ
راوړي زلمو ته غشي تر لښکره ځي راځي

په کومه شپه چې وژاړم په کومه شپه چې ډار شم
په خوب کې راته مور مې ترسحره ځي راځي

•••

خوشبویه به شي ټولې فضاګانې که ته راشې
خورې به شي هر خواته رڼاګانې که ته راشې

هغي هميش پوره غوښتم هغي يوازي نه!
پوره به شي د مور مي دعاګاني که ته راشې

غمونو ،اندیښنو او داسي نورو مي زړه وخوړ
شي ورکي به دا ټولي بلاګاني که ته راشې

يو ختم د قران کوم ملا ، چڼي راغواړم
او خورمه پري ښي ډيري حلواګاني که ته راشې

دا سترګي خو مي ستا د ديدن مم پسي ژړيري
خاموشي به شي دواړه ماشوماني که ته راشې

•••

زما ماشوم ښایسته جانانه ، پام چي ونه ژاړې
ماته له ټولي دنيا ګرانه ، پام چي ونه ژاړې

لا ماښام نه دئ لاس دي راکه لاره لږه پاتې
رسو به مخکي له اذانه ، پام چي ونه ژاړ ې

مينه زما او ستا ژوره ده له دي دريابه
کښتۍ وباسوله توپانه ، پام چي ونه ژاړ ې

بیا مي دیار دراتلو وخت دئ چرته پاتي نه شي
وربځي دي لري کړه اسمانه ، پام چي ونه ژاړ ې

غبړ کي یي ونیوم په سپینه خوله یي داسي ووی
زما بشیره بندېوانه ، پام چي ونه ژاړې

مور مي په سرراته لاس کیښود ، راته وي ویل
مرګی مي نیسي له ګریوانه ، پام چي ونه ژاړې

•••

هغه چي درز به شو دتندر تابه غېږه راکړه
ها توره شپه هغه باران مې ، والله ډیر یادېږي

دا وربځي زلفي دي له سپینه مخه لري زر کړه
پړق دسپوږمۍ دشین اسمان مې ، والله ډېر یادېږي

اکثره مخي ته زه ږدمه آینه دماضي
ستا په لاسونو کي ګریوان مې ، والله ډیر یادېږي

چي دراتګ سره یي ګل په شان غوړېږمه زه
هغه سپرلی سپرلی جانان مې ، والله ډیر یادیږي

یو وخت چي ماهم تري زړه وړی وو زاری یي کړلې

هغه ماشوم شان بندېوان ، مي والله ډېر یادېږي

کړنګ چي اذان به شو په نه زړه به یې ووی ګواښه!
په وړه ژبه ((خدای پامان)) مي والله ډېر یادېږي

ها چي ماشوم وومه ، سیني پوري یې کلک نیولی
هغه د مور دغېږ زندان مي والله ډېر یادېږي

•••

ته کله په ویښه کله خوب کي راله راغلې
زوړ دي کړم له غمه ، زلمیتوب کي راله راغلې

عقله! اوس نو نه شي ، بېرته نه شم ستنیدلی
ډېر ناوخته راغلې ، مئینتوب کي راله راغلې

مور مي په دعاوو وي شړلی عزرایله!
یاد دي شي! ها ته چي وړوکتوب کي راله راغلې

نه مي د چا کور سوی ، نه مي څوک وژلي دي
شکر دئ مرګیه! سړیتوب کي راله راغلې

•••

لیونی سړی راغلی
خو ژوندئ سړی راغلی

دګلاب په شان تازه شوم
پسرلی سړی راغلی

زما د زړه په کور مېلمه دئ
یو پردئ سړی راغلی

جینکۍ کوي پري زيری
((پرونی سړی راغلی))

بشير تانه چي لاس واخيست
شو سړی ، سړی راغلی

•••

لکه سندره او ټپه ، په زړه کي لاره کوي
داسي دي هر لوظ وعده ، په زړه کي لاره کوي

دشينکي خال ، دشنو بنګړو دتور لونګ ميرمنه
په سرو لاسو وهي چمبه ، په زړه کي لاره کوي

سترګي مي ټيټي شي سجدي کړم چي دي ګورم اشنا
دتورو سترګو دي کعبه ، په زړه کي لاره کوي

ور دتوبو به يي زاهده مخه ونه نيسي
دميني تاودعشق لمبه ، په زړه کي لاره کوي

اخر قانع شوله آخر يي ووي ګواښه اشنا
ستا دغزل هره مصره ، په زړه کي لاره کوي

•••

لاسو کي که څه هم هتکړۍ مي دي
نښي په تندي دبندګۍ مي دي

وينه دزړه ورکړم بدل نه غواړم
دغه ښوخويونه دخانۍ مي دي

مرګه پام په هېره چي هم رانه شې
لاخو مستي شپي دزندګۍ مي دي

تاعيبونه پټ کړل په دولت باندې
ماپوري خندلي غريبۍ مي دي

•••

وا ، دزړه خبري کړم
ستا ، دزړه خبري کوم

لاس مي په خوله مه ږده ته
لا ، دزړه خبري کوم

وایم ګډي وډي چې
دا ، دزړه خبري کوم

چیرته ځي لږ صبر شه ؟
ستا ! دزړه خبري کوم

ژوند مي څو شېبو لره
را ، دزړه خبري کوم

•••

ستوري ، لمر ، سپوږمۍ ، کوم درته راوړمه
ته خو په یو څه لاسونه کېږده!

هر څه چي وو ، تیر شولو
نور دي بس په خوله لاسونه کیږده!

ته وا چي شېبه وروسته به والوزي

لړ خو مي په زړه لاسونه کېږده!

وایی به سپوږمۍ تندر نیولي ده
ته دي په مخ سره لاسونه کېږده!

•••

درحمان بابا دغزل په لیکه
دیوي طرحي مشاعري په لړ کې

چي لاسونه دي زما دغاړي هار شي
داغمجن زړه به مي هله په کرار شي

خدازده ولي چي هغه مخي له راشي
اننګي يي داسي سره لکه انار شي

چايي سر چايي په پښو وارونه وکړل
پښتانه به خدازده کله رابېدار شي

نوم دحق پر خوله وانخلي هسي نه چې
دظالمو دايره کي ته په دار شې

په پسته ژبه يي داسي راته ووی
بس دئ څمه هسي نه ګوابنه سهار شي

د۱۳۸۲ کال لومړۍ ورځ

•••

مینه دي نه کړم ستا دیاد لاره مي پرېښودله
کاڼي نور نه زغمم د داد لاره مي پرېښودله

نه کافر شوی وم او نه مي وو وطن هېر کړی
مشر مي غل وو دجهاد لاره مي پرېښودله

زه دحالاتو تیندکونو دومره پوه کړمه چې
دزنده باد او مرده باد لاره مي پرېښودله

دزندګۍ لمبو پوخ کړی یم تر دي ملګرې
آخ قدري نه کړم ، دفریاد لاره مي پرېښودله

بوري هوسۍ راته کټ مټ افغانستان یاداوه
غشي مي مات کړل دصیاد لاره مي پرېښودله

چي شېرینۍ راسره نوره په لار نه شوه تللی
ځکه بشیره دفرهاد لاره مي پرېښودله

•••

داسپین پړونی ، ټیټي سترګي دنظره نه شي
نن خو دي ستوري هم جلۍ ، لباس ته لاس اچوي

هغه مغل سالار به دم ګړۍ په ځمکه پرېوځي
هغه دئ ورغی پښتون یي آس ته لاس اچوي

ښایی دي سترګو دي زمونږ مشر نه چل زده کړی
په رڼا ورځ مي دزړګي الماس ته لاس اچوي

څو ځل وعده مي دشرابو پرېښودلو کړې
خو چي رایاده شي دازړه ګلاس ته لاس اچوي

له یوه بل بغیر یي نه شي زندګي په دنیا
بشیر چي سیند واخلي بابک یي لاس ته لاس اچوي

•••

کړې مي داسي اراده ، ستاله لیدلو وروسته
تابه خپلوم ده مي وعده ، ستاله لیدلو وروسته

درته سجده وکړم که ښکل دي کړم دپلونو نښې
ماته مي کور ښکاري کعبه ، ستا له لیدلو وروسته

نور به تري هېڅ یو ښکلی هم جلۍ دننه نه ځي

دي زړه مي بنده کړه تمبه ، ستا له ليدلو وروسته

خدازده چي څرنګه شغلي دي وي په مخ کي پټې ؟
په هر چا پوري شوه لمبه ، ستاله ليدلو وروسته

•••

موري ته رايادہ شي او ښه درپسي وژاړم
سترګي مي ملګري وي له زړه درپسي وژاړم

باد دروازه ببرته کړي ګمان کوم چي راغللې
منډه کړم د کور تر کوزه وره ، درپسي وژاړم

زما په يوه چيغه به دي زړه سيني نه ولوېده
اوس نو ولي نه راځي چي زه درپسي وژاړم

هغه ورځ مي بده وي چي تا رايادہ نه کړمه
هغه شپه مي خوب نه وي چي نه درپسي وژاړم

ډېره موده وشوه چي احوال له تانه نه لرم
خوب کي به مي راشي مورې ، که درپسي وژاړم

•••

څه عجيبه شانته منظر دئ ، څو کلونه کېږي
زما په پښو کې زما سر دئ ، څو کلونه کېږي

ای زما مورې! زه دلمر سره جنګ کړلی شمه
زما په سر دا ستا څادر دئ ، څو کلونه کېږي

والله که ساهم تري په نره اخستلی شمه
پروت په مرۍ راته خنجر دئ ، څو کلونه کېږي

يو ورځ به سيوری هم راورسي داخير دئ که اوس
زمونږ په دښته کې سفر دئ ، څو کلونه کېږي

•••

بې د اجازې دزړه دننه سړی راشي
وکړمه تري څو ځله مننه ، سړی راشي

څنګه غم ونه پالم څنګه ځای ورنه کړمه ؟
دالکه بې کوره بې وطنه سړی راشي

مياشت چې شي پوره کلی کې وايی دا
نن به يو بې روحه ، بې بدنه سړی راشي

شته ډېري ناخوالي چي دزغم نه دي
مثلاً ، له کلي بي دېدنه سړی راشي

هو د ښکلو چم لکه وطن د افغانانو!
ورشي ښه خوشاله خو غمجنه سړی راشي

د خیبر افریدي په لیکه

((ته چي شي خفه ، راله خوب نه راځي))
ټوله ټوله شپه ، راله خوب نه راځي))

زه يي د دنيا له كاره ووېستم
درد دي رانه وړه ، راله خوب نه راځي

ستا تصوير ته ګورم شوګيري كوم
اخلم تري مزه ، راله خوب نه راځي

څومري ښي خوږي خوږي كيسي كوي
زما د زړه مېلمه ، راله خوب نه راځي

ويل يي د بشير سره پخلا مي كړئ
راولی هغه ، راله خوب نه راځي

ته که هر څومره پردۍ يې ، ليونيه
په سينه کې مې زړګی يې ، ليونيه

ويل يې ، ته رانه په لاره خولګۍ غواړي
څه سپين سترګی شان سړی يې ، ليونيه

لاس يې مات شه چې به تا په کاڼو ولي
ته له ټولو ګلالی يې ، ليونيه

هغه شوخه راته زما په هکله وايي
ای بشيره ، ليونی يې ، ليونيه!

بیتونه

•••

ورځ به نو ښکلا زما ښه شي ، چې خبري نه کړې
منزل ته لار به مې اوږده شي ،چې خبري نه کړې

چې کړې خبري ته نغمې وايې سندري وايې
کیسه کیسه او افسانه شي ، چې خبري نه کړې

لږ خو څه ووايه ،خفه يې! ولې چپ غوندي يې ؟
مورې! دا ورځ به په ما شپه شي چې خبري نه کړې

•••

ته لکه د سا په هر يو زړه کې يې
زه لکه هوا غوندي بې کوره يم

زه خو دي پانزيب ته ورته نه يمه
زه خو دي لونګ په شان بې شوره يم

څو کلونه کیږي ژوند کې نشته خوند
څو کلونه کیږي چې بې موره يم

•••

زلفي راخوري که ، بیا یي واړوه
ورځي پر ما شپي که ، بیا یي واړوه

وپاشه د مخ له ډیوو نور صنم
لمر ذري که ، بیا یي واړوه

سترګو ته مي سترګو کي ځای راکړه لږ
سترګي مي مړي که ، بیا یي واړوه

•••

اوس دومره نشته مېخانه کي ساقي
چي پریښودل مي پېمانه کي ساقي

څوک هم چي سترګي دچایادي کاندي
نوم دي راځي په افسانه کي ساقي

جامونه راچي یي مخونه هېر کړم
نشته وفا په زمانه کي ساقي

•••

دوه رکاته هر لمانځه کې زيات کوم
عشق کې دي سوچه ليونی شوی يم

تا نه مې بغير ګزاره ګرانه ده
لږه خو راځه ليونی شوی يم

زلفي زنځيرونه ، ټولوه يې مه
زه خو لا تازه ليونی شوی يم

•••

ستا دحسن مدحه کې دازږه زما
کله آياتونه کله شعر وايې

تايوه ټپه وکړه او لاړلې
خلک خو ياسين مړي ته ډير وايې

•••

اوس د زندګۍ په بندګۍ باندي خوښ نه يمه
اوس لکه ځان مرګی بريد کوونکی مي ځان بدي شي

ځار دي له قدرته شم ، هر درد زما قبول دئ
خو زه لکه ماشوم يمه ، منونکی مي ځان بدي شي

•••

کله ناکله له جانانه بغاوت کومه
څومره ساده یمه له ځانه بغاوت کومه

نور دي دلېچو بنګړي مخه زما نه شي نیوی
نور دي دمېني له زندانه بغاوت کومه

•••

دلیوني سترګي راډکي شوي چي ومي پوښته
((ستادسندرو هغه ښکلی رباب څرنګه دئ؟))

چي يي له زړه ویل کنه؟ خو نن يي وپوښتلم
چي دي زړګی ستي ستي او کباب څرنګه دئ؟

•••

اوس هم د لیکلو او لوستلو بلا شوق لرم
اوس هم په ورغوي ستا نامه لیکم او لولم يې

•••

تېره شپه مي ته په خوب ونه لیدې
تېره شپه مي کور کي څراغ بل نه وو

•••

ځه کنه ! دايوثواب خووګټه
راشه زمونږکلي ځو ورځو له

•••

اوس هغه لويه لاره شاړه پرته
پرکومه لار چي به درتلمه درته

•••

راشه که لږ رحم دي په زړه کي وي!
لوږمه ، خزان وهلي ونه يم

•••

غم سره نه شم پرېښودلی دوستي
د ماشومالي نه ملګری مي دئ

•••

سر درد لکه ماشوم د خوب په غېږه کي ځان پټ کړ
چي تا په غېږ کي ونيوم ، تندئ دي زما ښکل کړ

•••

دا سترګي دي له خپله عمره ، ډېري زړي ښکاري
ته هم لکه چي مانه بغير ځانله ډېره ژاړي

•••

غاړه غړۍ پرېوته ډیوو سره

هغه چي په ګلو به یي خوب کاوه

•••

ګرځمه په ځان پسي لټون کوم

ناست یمه په تاپسي ژړېږمه

•••

دا ژوند لکه څادر د کوم غریب

چي پښي پکي راونغاړمه ، سر مي تري ښکاره شي

•••

ګمان د ایمان زیان دئ خو درواغ لکه چي وایي

ته نن دي په خبرو کي ساګاني اخلي ډیرې

•••

زه په آخر کي همغه له ژونده وویستلم

څوک چي مي ژوند ګاڼه او ژوند مي ورته نوم ایښی وو

•••

لکه لیلام کي چي څوک اخلي څه شی

داسي یي زه په یوه مسکا واخستم

•••

په لاره ولي مي یوازي پرېږدې
لاره خو چاته لاره نه ښایي

•••

دکور په نوم چي يي جونګړه وي دخوړ په منځ کې
هغه دي نه کوي دوستي دبارانونو سره

•••

په جوړيدو کي هسي نه نور هم ذره ذره شم
همداسي مات ښه يم اشنا ، لاسونه مه راوړه ته

•••

یوه بي ژبي ، یوه معصوم سره خبري کوم
داته چي نه يي ستا له نوم سره خبري کوم

•••

جوړ دجدایۍ اندېښنو چوپ کړلي دریادي شوې
سپېنه خوله دي موم کړه دخبرو منځ کي غلي شوې

نظمونه

ډېوي بلي کړم

نن مي موري بيا ژړا ته زړه شوی
نن مي موري بيا رایاده شوي يې
زه دي په خپل یاد پوري تړلی یم
ته د ژوند له قيد ازاده شوي يې

تا خو ماته ويل چي روغه جوړه يې
اوس نو ښنګه غلي يي خاموشه يې
ولي ماسره خبري نه کوي
ولي له ما تللي يي خاموشه يې

بيا درنه هغسی هرکلی غواړم
تا ته به چي راغلم تا به ښکل کړمه
زه به د دنيا غبار وهلی وم
تا ته بۀ چي راغلم تا به ګل کړمه

اوس هم چي زه کله کور ته لاړ شمه
ټول واړه رامنډې کړي او ښکل يي کړم
هره يوه بوډۍ مي خپل بچی ګڼي

زما تنې راغونډې کړي او ښکل يې کړم

تا به ويل چي زما سترګي ليدل غواړي
پاڅېږه خوږي موري راغلی يم
ما د ژوند اغزني لاري ګام کړلې
تاته زه پښي توري راغلی يم

موري چي اوس ستا دعاوي نه لرم
چاسره هم جنګ نه کړم ، بايلمه يې
اوس نو خوشحالي په ژوند کي نشته دئ
غم د پاسه غم دئ چي پالمه يې

اوس چي څه هم غواړم په لاس نه راځي
اوس نو ښه پوره ناکامه شوی يم
تانه مي بغير هر څه هېر شوي دي
زه يوازي شوی يم ، زه بي پامه شوی يم

موري ما دي غېږه کي ويده کړه ته
ټوک ټوک يم په زړه باندي داغلی يم
پرېږده چي يو څو شېبي تري پټ شمه
زه د وخت ناخوالو سم ځپلی يم

موري چي کابل ته کله لاړ شمه

تکه توره شپه کي ډيوي بلي کړم
ستا تصوير راواخلم ورته وژاړم
زه بې موره شپه کي ډيوي بلي کړم

پنډ دواوي واخلم چي ناروغ شمه
خو بياهم پري زما ګوزاره نه کيږي
خدای مي دي اوس زر تا سره يو ځای کړي
زما په دي دنيا ګوزاره نه کيږي

•••

زيری

تاوی هيڅ کار نه کوي
تاوی اوزګار ګرځيږي
زيری درکوم
اوس نو بې کاره نه يم
ځان له مي کار پيدا کړ
((زه هر سهار
تايادومه ډېر ه
تاپسي ډېر ژړيږم
تاته شعرونه ليکم))
زيری درکوم

اوس نو بي کاره نه یم
ځان له مي کار پیدا کړ..........

•••

(دخپلي ۲۳مي کلېزي په ورځ)

تحفه

ویل یي تحفه درکوم
ماویل خیر خوبه وي!؟
ویل یي ((هیرجن یي بلا!
نن ده کلیزه داستا))
شومه مسکی
ماوی ((ښه څه راکوې؟))
ویل یې
((دازړه دي واخله
نوره دي مینه نه کړم))

•••

ارمان

مابه پرې
ډېر ګلان
شیندلي وی خو
اشنا په داسي وخت کي لاړو رانه
چي تشي شوي وې
دونو غېږې.

•••

پخیر راغلي

د پاپیو نه دي ځار ،شم پخېر راغلي
شکریه ، مهرباني ، ګلي مننه
ما مي ور درته دزړه دئ پرانیستلی
قدم زما په قدم ږده ، راځه دننه

شکر شکر دئ چي راغلې ، راشه کېنه
دمه سازه کړه ، منګي نه اوبه واخله
بسم الله کړه او په شونډو مي بیا ښکل کړه
خوله خوږه کړه ، له خوږو نه خواږه واخله

سمه دمه دلالونو خزانه یې
د غني خان ترانې غوندي ښاپسته یې

کوچنیوالي په شان پاکه يي معصومه
ته د تېرې زماني غوندي ښاېسته يې

دانګورو له اوبو نه جوړه شوي
خماري د مېکدي د لمونځ په شان يې
سر تر پايه مجموعه د ثوابونو
خوندوره د جمعي د لمونځ په شان يي

ستا وجود زما وجود دئ ، ورکه مه شي
ته مي کټ مټ دپښتو ژبي په شان يي
دټپي غوندي په زړه کي دېره کېږي
او خوږه يې ، د بلال د خولي اذان يي

د پاپيو نه دي ځار ،شم پخېر راغلي
شکريه ، مهرباني ، ګلي مننه
ما مي ور درته دزړه دئ پرانيستلی
قدم زما په قدم ږده ، راځه دننه

شکر شکر دئ چي راغلې ، راشه کېنه
دمه سازه کړه ، منګي نه اوبه واخله
بسم الله کړه او په شونډو مي بيا ښکل کړه
خوله خوږه کړه ، له خوږو نه خواږه واخله

ته خبره يي چي زه څومره غمجن يم !
ته خبره يي چي زه څومره يوازي !
بس دغم پکي همېش تګ او راتګ دئ
او تمبي مي د زړګي دي ورته وازي

زه د درد سره ملګری يم ، ملګري !
غم مي ډېر کلونه وشول انډيوال دئ
اوس مو راشه درشه نشته دئ په منځ کي
اوس زما او د خوښۍ منځ کي دېوال دئ

چي له کومي مي مور مړه ده ،زړه ناجوړ دئ
د دنيا له رنګينيو ځني موړ دئ
اوس دکلي د مرغيو اواز ناست دئ
اوس دښار مزه ګۍ نشته ، ښار مو سوړ دئ

د پاپيو نه دي ځار ،شم پخېر راغلي
شکريه ، مهرباني ، ګلي مننه
ما مي ور درته دزړه دئ پرانيستلی
قدم زما په قدم بږده ، راځه دننه

شکر شکر دئ چي راغلې ، راشه کېنه
دمه سازه کړه ، منګي نه اوبه واخله
بسم الله کړه او په شونډو مي بيا ښکل کړه

خوله خوږه کړه ، له خوږو نه خواږه واخله

تانه څه پرده ، ښکاره يې درته وايم
مستي مستي جينکۍ زما ملګري
پستي شونډې يې له شاتو نه خوږې دي
سپيني سپيني ښاپيرۍ زما ملګري

چې زه نه يم تر راتګ راپسې ژاړي
داسې ډېرې جينکۍ مې انتظار کړي
ټوله شپه ستوري زما په هکله پوښتي
لېونۍ دي ، لېونۍ مې انتظار کړي

خو يوې ته مې هم زړه نه دئ ورکړی
او يوه يې هم زما په زړه کې نشته
دهوس له ګناه داسې پاک او صاف يم
لکه څرنګه چې ستا په زړه کې نشته

د پاپيو نه دي څار ،شم پخېر راغلي
شکريه ، مهرباني ، ګلي مننه
ما مې ور درته دزړه دئ پرانيستلی
قدم زما په قدم ږده ، راځه دننه

شکر شکر دئ چې راغلې ، راشه کېنه

دمه سازه کړه ، منګي نه اوبه واخله
بسم الله کړه او په شونډو مي بیا ښکل کړه
خوله خوږه کړه ، له خوږو نه خواږه واخله

دا ذري ذري زړګوتی مي راټول کړه
دغمونو د دردونو ښاریه ده
په یاسین د میني دم یي کړه ، ملګري !
د بد روحو د روحونو ښاریه ده

په پلومي اوښکي وچي کړه محبوبي !
داشوګیر وهلي سترګي مي دمه کړه
د دیدن په ثوابونو غسل راکړه
ما د زړه په جومات ګوټي کي چېله کړه

•••

وصیت

دادتېر
مازیګري لمر
په تلو تلو کې
راته وایي
((سره یو شئ لرو برو

کنه زما په شان ډوبېږئ)).

•••

ها دي يادېږي.....!!!

هادي يادېږي!

چي ماشومان وو مونږه

ته هم کوچنۍ وې او زه هم کوچنی وم

نه مونږه ښه نه مونږه بد پېژنده

نه مو فنا نه مو ابد پېژنده

نه مو غمونه خپګان پېژنده

نه مو رقيب نه مو هجران پېژنده

بس مونږ خوښي او خوشحالي پېژنده

مينه مو زړه کي ګلابي پېژنده

ټوله ورځ لوبي به وې

ټوکي ټکالي خنداګاني به وې

هسي دټوکو ژړاګاني به وې

دخوړ په غاړه به مو

له لمدو ډېرو شګو

واړه کورونه جوړ کړل

او په ګورګورو به مو

واړه ځانونه ((موږ)) کړل

ها دي يادېږي!

چي جومات ته به تلو
او له ملانه به مو
بغدادۍ لوستله
ملا به وکړه شروع
((الف)) الله ، (ب) بسم الله ده بچو!
((ج)) ده جارو او ((ح)) حلوا ده بچو!
مونږ به په پټ او شیطاني انداز کې
سترګي ور واړولي یو بل ته
په تنکو تکو سرکو شونډو به مو
ژبي راکش کړي چي حلوا یاده شوه
بیا به مو زړه کي څه دعا یاده شوه!

دچينارونو په دېره کي به مو
دیخو سیورو لاندې
((پټ پټونی)) کاوه
ته به له ماپټه شوې
مابه دسترګو او دزړه په رڼا
ته لټولي لټولي جلۍ
ترڅو پیدا به مي کړي
دزوړ چینار دهغه وني شاته
چي پري انځور وو
دوه دمېني زړونه

هادي یادېږي!
یوه ورځ غصه شوې
په څه خبره رانه ته خپه شوې
له مادي مخ پټ کړلو شادي کړله
ما په وړوکي ځان بلا دي وړله
ماپه وړه ژبه منت در وکړ
دپخلاینې به مي ست دروکړ
داستا مي ونیوله زنه یاره
له تا مي وغوښته بخښنه یاره
ته لا وړوکي وي کوچنۍ وي جلۍ
په بدن نرمه وي تنکۍ وي جلۍ
درحم توري ستا پر زړه او خولګۍ
پاس له اسمان راتوی شول
غېږ کي دي ونیوم پخلا شولو بیا

هادي یادېږي!
چي باران وریده
برلۍ هم ښه ډېره وه
دتندر درز شو
او ته وویرېدې
زما په غېږ کي دي پنا واخسته

موږ بې خبره وو له وخته ځېنې

له خپل بدرنګ رښتیني بخته ځینې
داوخت ظالم لکه دباد تېرېده
زموږ ماشومو اداګانو ته
هیڅ صبر نه شو
له مونږ یي واخیستي ماشومي هېلې
زه یي زلمی کړم ته یي هم پېغله کړې
زموږ ترمنځ یي دیوالونه هسک کړل
او...
یوه ورځ
زما په تریخ ژوندون کې
داسي راغله
چي ته مي ولیدې
تا پټ کړلو مخ
مادرته بیا دماشومانو په څېر
لاسونه وغځول
چي ګوندي غېږه راکړې
خو تا په لنډو هېښونکو تورو
یو لنډ ځواب راکړ
((ګرانه زړګیه!
زه اوس پېغله یم ته هم زلمی یې
ماته به اوس
په ها وړوکي انداز
نه راګوري

ماته اوس

وخت دا اجازه نه کوي

چي زه دې

تاسره بیا وکړم لوبې

چي زه دې

تاسره بیا وکړم لوبې))

•••

د اردو د یوه بیت ژباړه

ذهن

دلته به چاسره

ته دومره مینه نه کوې

چې ، بیا یې نه شي هېرولی اشنا

ځکه چې دلته ،

ددې خلکو ذهن

دموسمونو په شان

زر بدلیږي

•••

د اردو د یوه بیت ژباړه

څو....

شړه مي مه له ځانه
څوک به په میاشت ددسمبر کي ګلې ؟
په مېنه سور سالو په سر کړي درته
چي بارانونه دې
خیشته پیشته کړي
ږلۍ دي هم ووهي
بیا به دریادشمه زه
څوزه به نه یم ګرانې
درنه به لیري لاړ یم

•••

وير

زما په وير کي هره خوا ناري وې
زما په مرګ باندې
ټول کلي ژړل
زماپه قبر باندې
دکلي انجونو
خپل بنګړي واچول
او خپل شینکي ټیکري یې
زما په زیارت خواره کړل

د صبر ونه يې
زما دقبر
سرته وکرله
سپېني منګولي يي کړي پورته رب ته
راته يي وکړه دعا
((ګور دي شي ستا ګلونه))
خو هغه دنګه جلۍ
ها دهمزولو ميره

چي پري مئين وومه زه
ورسره مينه مي کړه
چي به ويل يي ماته
((نرۍ نرۍ تبه مي نيسي
چي دي ونه وينم کاږه واږه بريتونه))
اوس دفطرت
دموسمونو په شان
ټوله بدله شوله
اوس يي پر خوله باندي ده داخبره
((واخلئ يانه رانجه يي واخلئ
نه يي ياري کړم نه يي نښي ګرځومه))

•••

نو....

دزولنو
شرنګا کې لوی شومه زه
دبنګړو شورسره
نو
څه بلد شوم ؟!

•••

ځرایه

دجنتونو سپیني سپیني حورې
لیري دبل جهان خبري خدایه
ماته مې
خپله کلیواله راکړه.

•••

څه.....

یوازې ځنګه

نو
زه واوسېږم
نغوذو بالله!
خدای خو نه یم!

•••

ملکه

ها دخيرنو
او شكېدلو جامو
سوري سوري ټيكري
سوالګره جلۍ
كه وه په بل هېواد كې
قسم دئ وه به
((ملكه دحسن))

•••

؟

خنګه يو ځای به شو؟
زه نه پوهېږم
زه توره شپه دكلي

ته لکه

لمر د ورځې........

•••

د انګلیسي ژبې د یوه شعر ژباړه

یادګار

داننګو په شان یې
ګلابي رنګه پاڼه راوړه راته
ویل یې
((خه داسي راته
ګرانه ته ولیکه چې
ستاوي یادګار راسره))
ماپاڼه سپینه پریښوه
خو په آخره کرښه
مي امضا وکړه
ورته ومي لیکل
((پاس چي ته هر څه لیکې
زما قبول دئ قبول
ځکه زه خپله ګلې
یمه دا ستا
دفیصلي منتظر....))

•••

د پنجابي ژبې د یوه شعر ژباړه

هغه جلۍ...

هغه جلۍ
لکه غزل دشاعر
لکه جادو دساحر
لکه دسترګو ساغر
لکه نغمه درباب
لکه غوټۍ دګلاب
لکه دميني کتاب
لکه هوا دسهار
لکه دميني خمار
لکه اواز دابشار
لکه شپیلۍ دشپونکي
لکه درزا دزړګي
لکه اوبه دمنګي
لکه نغمه دبلبل
لکه مطلع دغزل
لکه شمله داتل

لکه ښایست دسپوږمۍ

لکه اواز دشپیلۍ

لکه دژمي ږلۍ

لکه دوصل باران

یالکه خیال دجانان

خو له ما دومره لیرې

لکه سپوږمۍ داسمان

•••

واره

په ټیلي فون یې

راته ووی داسې

ته خامخا به راځې

سبا واده دئ زما

•••

زړه

مامي دازړه

چاته ښودلی نه دئ

ځکه زه نه غواړمه

چي څوک داستا

داوسیدلو
سیمه
وپیژني.

•••

کور دي ودان

درته دعا کومه
کور دي ودان
چي دي یوازي کړمه
پري دي ښودم
ایله مي ژوند وپیژاند
پوهه شوم په ژوند

لا زما ذهن په پرده ساتلي
چي به دي سترګو ته وم سترګي سترګې
مابه دشیخ خبره
چي :
((خدای څوک نه شي لیدئ ، مه یي ګورئ))
کړله دروغ ثابته
او وبه مي لید
چي خدای ستا سترګو کي دئ

ښکته به شوم پري به وتم
بلا شيبه وروسته به
خړ تندئ راپاڅېدلم
ماعبادت به وکړ
شېخ به کافر ګڼلم.

درته دعا کومه کور دي ودان
چي دي يوازي کړمه
پري دي ښودم

اوس به نو څوک
ماته کافر نه وايی
نه به دخلکو په خوله
زه ليونی يادېږم
کور دي ودان
چي دي يوازي کړمه

•••

دانګليسي ژبي د يوه شعر ژباړه

کاش!

کاش
چي هوا وی اشنا
کله نا کله خوبه
داستا پر جسم
لګېدلمه زه.

•••

لار!؟

څه عجيبه سړی یم
پر هغه لار دي انتظار کومه
چي نه دي کورته درځي
او نه هم
ستا دکلي لار ده.

•••

کور!؟

له ما چي ببل شوي اشنا
دغسي پاتي شومه
لکه دکور چي ديوالونه نه وي

•••

د اردو ژبې د يوه شعر ژباړه

ليونی

څه ليونۍ جلۍ ده ؟
څه ليونۍ ملګرو ؟
زما خطونه يې ټول
ټوټه ټوټه کړل
او راته وه يې ويل
((هسې نه خلک يې
راسره وګوري))
خو خدازده بيايې
دې ليوني زړه ورته څه ووېل ؟
چې شوه لګيا
او دخطونو ټوټې
يې سره ټولې ،بيرته يو ځای کړلې
څه ليونۍ جلۍ ده!!

•••

ګيله

ستا مينې ړوند کړمه زه داسې صنم
چې راته لويه دنيا نه ښکارېده

وه راته یاده دژوندون کیسه خو
ماته مني چي رښتیا نه ښکاریده

چي ځاریدمه دي له تورو سترګو
پر ما دي هر ادا اثر کړی و
دومره زر ښکېل دي کړم په خپله لومه
ضرور دي څه جادو منتر کړی و

لا خو مي هېري نه دي یادي مي دي
زیړ مازیګر ستا دبنګړو سندرې
روح پارونکي روح ښونکي هغه
دسپېني خولي دي سپېني ښي خبرې

ږلۍ به وه تندر به و لوېده ته
جلۍ زما په غېږکي پټه شولې
مابه له قصده ځان نه بېله کړلې
ته به مي بیا په غېږ کي پټه شولې

چي به دسیند مستي خماري څپې
له خپل ساحل ځېني خولګۍ واخسته
تابه هم لاس تاو کړ زما له غاړې
بیا به دي مچه په سیالۍ واخسته

ستا په اوږو دتورو زلفو ولونه
لکه پراته وي په چندړ مارونه
زه یي هیرومه خو هېڅ نه هېرېږي
لا ځوروي مي ستا یادونه غرونه

په اننګو مي ستا دشونډو رنګ وو
زه یي منمه چي دا وینه نه وه
خو ځنګه هېري کړم دا ټولي کیسې
ځنګه باور وکړم چي مینه نه وه!؟

مینه رښتیا دي وه که خوب ووصنم
هېڅ یي په سور او بور پوهېږمه نه
راته بلبل دعشق سبق ښودلی
خو اوس یي زه په شور پوهېږمه نه

له تانه نه ، له خدای ګیله لرمه
چي زه یي ولي کړم پیدا په دنیا ؟
ولي دعشق پر تار یي وتړلم ؟
بیا یي کړم بېل له خوږ اوښکلي اشنا

زه دامنم خدای دصابرو مل دئ
خو زه دصبر په چل نه پوهېږم
لاره یوه ده هایي هم تړلې

که نه دځان په مرګ ډیر ښه پوهېږم

•••

سپرلیه!

زما اشنا زما میلمه سپرلیه
مه شي له ما ځیني خپه سپرلیه
زه ښه راغلاست درته ویلنه شم
ځه بېرته ځه په مخ دي ښه سپرلیه

چینار اوس هم شته خو لمبو کي سوی
نشته وږمي دتورو زلفو ولونو
منګي يي مات دي له مستۍ لوېدلې
ګودر ته نه درومي جوپي دانجونو

خدازده چي چارانه شپېلۍ وړي ده
سندره باد مي له خولګۍ وړي ده
وخت خو تېريږي خو پیکه پیکه دئ
مزه دژوند چا لېونۍ وړي ده

خوله کي هغه ژبه اوس نه لرمه
چي به مي تاته پري سندري ویلې
هو! همغه وړه نازکه ژبه

چي مي اشنا ته پري سندري ويلي

يو څو ناترسه څو ظالمو خلکو
زما دسندرو ژبه غوڅه کړله
پر دغه تور چي د منصور مريد يم
زما دخبرو ژبه غوڅه کړله

اوس چي په خوله کي ژبه نه لرمه
له ما به نه کوي ګيله سپرليه
زه ښه راغلاست درته ويلي نه شم
څه بېرته څه پرمخ دي ښه پسرليه

هغه دحسن دهېواد ملکه
هغه ټپو باندي مئينه جلۍ
هادلونګو دوړمو قافله
دپا و لۍ دار کميس ميرمنه جلۍ

هغه دټول کلي دانجونو ميره
هو! هغه شوخه هغه مسته جلۍ
دوخت بادونو مړاوي کړله
هغه تنکۍ دګلو لښته جلۍ

داخپل ښايست او مينه اور شو ورته

نور يي په دي کلي کي ځای نه کېده
هسي هغه هم ملامته نه وه!؟
ځای يي رښتيا وايم په خدای نه کېده

دها چينار لاندي ويده ده هغه
زمونږ له ټول کلي خپه ده هغه
هغه چي شنه غوندي ټوټه ښکاري
دسپينکي قبر يي جنډه ده هغه

مانه يي ستا په شان جانان وژلی
سپرليه ورک دي شي سپېره جنګونه
راځه چي قبر ته يي دواړه ورشو
ته پري زرغون کړه دګلاب ګلونه

•••

يو ليک

چاراته داسي ليک ليکلی ګواښه
((وايی زمونږ کلي ته نه راځي ته
وايمه اوس به راشي اوس به راشي
خارمه هره ورځي لاري دي زه))

((زه هره ورځ لکه دتيرو ورځو

څارمه پوري کندو ستا لپاره
وایمه اوس به راځي اوس به راځي
خو بیا هم نه یي ته په دغه لاره))

((په څه خبره رانه ته خپه یې؟
چي نه دي لیک نه دي سلام رارسي
نه دي ټپه نه دي مصره دغزل
نه دي دښو بدو پیغام رارسي.))

((له مانه څه ګناه ، قصور شوی دئ
چي تش سلام راته هم نه رالیږې
چي له هرتوري یي وفاڅڅیده
جملي دمیني صنم نه رالیږي))

((دادچا سپینو دچاوچو سترګو
کړه دنظره زمونږ ښکلي مینه
خدازده چي ولي له ګرمۍ ولوېده
ستا په وجود کي زما دمېني وینه))

((ښایی دچا دتورو زلفوماښام
درنه زمادمخ رڼا هېره کړه
یادچا تورو شوخو شوخو سترګو
زما دنظر درنه دنیا هېره کړه))

((نه نه! دانه شي کيدای خدای دي نه کړي
چي پر لوظونو خاوري واړوي ته
ماتي کړي ټولي خپلي کړي وعدې
په قسمونو خاوري واړوي ته))

((مات به نظر دوړو سترګو کړمه
لوګی ځواني به کړمه ستا له مينې
بيا به لاسونه زما له غاړي تاوکړي
بيا به مجبوره شي زما له مينې))

•••

فيصله

دامنمه چي مي مينه درسره ده
دامنم چي ليونتوب دئ راپه برخه
خو پښتون يمه پښتو ځيني ځاريږم
بي نشې ، مست زلميتوب دئ را په برخه

دا تا چي هيري کړلي کړي وعدې
او په تروه تنده ځواب دي کړمه
تا مکمل نه کړمه پري دي ښودم
زه د نيمګړي ژوند کتاب دي کړمه

منمه ته زما دسترګو تور وي
خو اوس نو ګراني داتور نه پالمه
شپي په شوګير به نوري نه رڼوم
سينه کي ستا ياد به نور نه پالمه

ځنګ چي دي زما ميني ته اور واچاوه
داسي به ستا يادونه وسېزمه
زيری يوه هم دښو رانه وړلو
نور به داڼول وختونه وسېزمه

•••

مه ځه

ته مي ليدلی لاهېڅ نه وي خو بس
زړه مي داستا په شان سړی لټاوه
ښايي ساده ووم ليونی به ووم
چي په ايرو کي مي غمی لټاوه

لېچونه ستانه ، زما زړه نه تاو وو
شرنګ دبنګړو نه زما خوب نه وو
لاس به مي دواړه غځول تر سپوږمۍ
لکه ماشوم خو ماشومتوب نه وو

دسترې ژوند پر هره هره لمحه
خيال کې انځور به مې شوي ته جانانه
مابه دي غاړې نه لاسونه تاو کړل
زړه به مې تانه ځاريده جانانه

اوس چې راغلی يې رښتيني ژوند ته
ستا دي قسم وي له ماليرې مه ځه
ښايي له مانه پس به ونړيږي
زما دزړه دادنيا ، ليرې مه ځه

•••

ګران ملګري فرهاد کريم ته چې اوس په لندن کې دئ

خواږه

زما جانان زما اشنا فرهاده
ته څومره ليرې يې له ما فرهاده
خو بيا هم ومنه چې زړه کې مې يې
هسې دي نه ويني دنيا فرهاده

منمه اوسي دشيشو په ښار کې
درناګانو ماښامونو کې يې

خو مجازي دي حقيقت نه لري
والله چي ته په تورتمونو کي يې

هسي نه هير دي شي داخړ کورونه
چرته چي اوسي حيا داره جلۍ
په تورو سترګو کي يي ته غړيږې
ځاري دي هره ورځي لاره جلۍ

په هره سا کي يي ستا نوم نځيږي
هغه ژوندۍ ده ستا په ياد فرهاده!
شېبه شېبه ورته يادېږي داسې
لکه شيرېني ته فرهاد فرهاده!

پام چي دلوخ تهذيب بربنډي انجونې
درنه ساده او پښتون زړه وانخلي
ياکومه شوخه کومه مسته جلۍ
درنه دټول عمر خواږه وانخلي

((کلی مو ځنګه دئ؟)) بس مه يي پوښته
پام دګودر پوښتنه و چي نه کړي
زاني اوس نه راځي دسيندله غاړې
دمازيګر پوښتنه و چي نه کړې

چي به دسولي لمر پري خور وو همېش
اوس په نصيب مو هغه کلی نه دئ
آن ديوالونه يي هم وسوزيدل
ښه دئ چي ګرانه تاليدلی نه دئ

جوپي دمستو انجونو نه ورځي اوس
ګودر لمبه دئ چينارونه سوي
هاشمله ور مشران ګوروخوړل
د سپين جومات مو منارونه سوي

تر نېمي شپي سندري نه وايي څوک
نه دمنګي اواز حجري نه راځي
سيتار په تير کي زوړ شپېلۍ ماته ده
نه چرته بل يو ساز حجري نه راځي

اوس ځنور زلميان اتڼ نه کوي
نه يي په غېږه کي رباب ښکاري
دورور په وينو يي لاسونه سره دي
دکلي هر سړی قصاب ښکاري

زړه کي مو ښه ډيره کېنه کرلې
باران په مونږه دنفرت شوی دئ
دکرکي حکم مو سنګر ته لېږي

دسولي غږ نه بغاوت شوی دئ

((ټوپک را واخلئ هله جنګ شروع دئ))
دلته بس هره ورځي دا چېغي وي
نن وایی ((نه یي منو))ویني توئ کړئ
سبا په حق کي بیا د ((شا)) چېغي وي

•••

کللی

وایی په دوړو ډک تول کلی مو دئ
دخړ بي رنګه رنګ کورونه مو دي
له ختو جوړ دسپېرو خاورو جوړ دئ
ښومره بد رنګ بدرنګ کورونه مودي

منم ساده دئ رنګیني نه لري
لکه دښار به زندګي نه لري
نه پکي شور نه اوازونه شته دي
خو داسي نه چي ښوک سړي نه لري

داخړي خړي بر جوري کلا
چي شاهداني دي دجنګ دوختو
لاهم زخمونه دګولیو لري

ځيني د روس ځيني پرنګ دوختو

دهمدي خړ کلي ساده خلک وو
نړۍ تاريخ کې يې اوس هم يادوي
شلخي ټوپک بهادرۍ کيسي يې
انګريز لا څه کړي چي روس هم يادوي

تابه زمونږ کلی ليدلی نه وي
پر شنو پټيوو يې بهار پروت دئ
يو مصور ډير په هنر جوړ کړی
کونړی سيند لکه ښامار پروت دئ

انجوني موده وشوه کورو ته تللي
خو ګودر اوس هم لا خمار پروت دئ
هغلته چاده د لاس نښه ايښې
هلته دچا دغاړي هار پروت دئ

کله روژه اختر کي راشه دلته
چي ډله ډله يې ځوانان ووينې
والله که يو هم دي پيرزوشي په لمر
دسرو غرمو به مزدوران ووينې

بس غريبي راباندي زور ده کنه

مونږ په پنجاب کي څه بلا غوښتله
ولي دلمر ولي باران دلاسه
مونږ به له تورونه پنا غوښتله

خير که غريب يو زړه مو نه دئ غريب
ژوند دخوښۍ مو دوهم نوم ګڼلی
څوک دسيتار په چل چي نه پوهيږي
مونږه هغه لکه ((مرحوم)) ګڼلی

دژمي شپي بس دسازونو شپي وې
دسندريزو غزلونو شپي وې
دخنداګانو دچکچکو شپېي
دنڅاګانو اتڼو شپي وې

څوک يا قربان کړي ، څوک شپېلۍ غږوي
چا په منګي يا سيتار لاس ايښي وی
دزړه دنيا يي وي جنون نه ډکه
دي ځينو ځينو په يار لاس ايښی وي

•••

خوب

ما ماشومتوب ليدلی

مازلميتوب ليدلی
تانه يي نه پټوم
نن مي يو خوب ليدلی

خوب دومره ښکلی خوب و
لکه سپوږمۍ دځوارلسمي جلۍ
يا لکه شنه دښته کې
چرته پريوتي ګلۍ

اظهار يي نه شم کوی
خوب له دي ډير ښکلی و
له مانه نه هيريږي
لکه دشعر ښکلی وو

اوس مي تشبيه وmonده
خوب مي داستا غوندي و
لامي په زړه ديره دئ
ستا دښکلا غوندي وو

ته وي په شنه جوړه کې
پاس په ډولۍ کي ناسته
څه عجيبه ښکاريدې
سپوږمۍ سپوږمۍ کي ناسته

چرته که خوب زما رښتیا وخاته
زیارت ته ښي ډیري جنډي اخلمه
دچارشنبي په ورځ پري ټولي خوروم
له وس نه زیاتي لوپټي اخلمه
دابه دسولي په پال هم ونیسم
په سرو دي اور ولګي شني اخلمه

هغه چي روزانه راځي کلي ته
هغه ملنګ ته به خیرات ورکوم
دخوارکي خوره ده ډیره خوښه
یوه پیاله نیمه به شات ورکوم

هاښکرور پسه تري اخلمه به
زه د((بادام)) دي تر رمي ورځمه
د قرتو ماته او سوچه غوړي پرې
بیا هم په ټکنده غرمي ورځمه

ټول خیراتومه خو پوستکی به یې
ته ښه خبره یي چي چاته ورکوم !؟
تیر ماسختن کي زما نکاح به تړي
زه یي دخپل کلي ملا ته ورکوم.

مو رته مي زيری د واده ورکوم
سهار وختي به هديري ته ځمه
تا ته تري ښي ډېري دعاوي اخلم
د خدای سپيڅلي مېلمني ته ځمه

•••

بنګړيواله

اوس هغه دوه مئينان نشته دئ زمونږ کلي کې
اوس دمچکو خرپانه راځي دبرګو درنه
خدازده چي څوک يي په مريوو باندي غلي شو چې
دچتو پيغلو خندانه راځي دبرګودر نه

ها بنګړيواله تروری نه راځي زمونږ کلي ته
پيغله يوه نشته بنګړي يي دلته نه خرڅيږي
زمونږ په زړونو کي کيني دي غځوني کړې
دلته اوس مينه په پيسو ده دلته زړه خرڅيږي

دلته شپونکی به وو شپېلۍ به وه سندري به وي
خدازده چي چيرته لاړ په غره کي يي رمه نه ښکاري
ددي باروتو لوګو هر ځای کي تياره خوره کړه
کلی سحر نه لري کلي کي غرمه نه ښکاري

اوس د ها ((تور ملنګ)) په خوله کې نشته دغه چيغه
((بچي مو لوی شه ، يوه لپه غنم راوړۍ راته))
دديوال ګوډ ته به يي وکړه تکيه وبه يي ويل
((په هيڅ هم کبر نه کړم هر څه منم راوړی راته))

دي ځينو ځينو زورورو دا کارونه وکړل
ولاړ ديوال يي چرته پري نه ښوده کلی وران شو
چي پوهيدل په ((وو)) او ((بو)) هغه کافر کړلی شو
يو کليوال يي چرته پري نه ښوده کلی وران شو

چاچي به چيغي داسلام اسلام وهلي دلته
هغوی جومات وران کړ قران يي پکي وسوځاوه
دوی خپل خيبونه خپلي خښتي پکي ډکي کړلې
خوزمونږ ګران افغانستان يي پکي وسوځاوه

دوی به ويل چي ثواب وګټئ جنت ته لاړ شئ
خو اوس پخپله يي زړه تور دئ داخبري نه کړي
لا يي ټوپک اوږه کي پروت دئ سوله نه خوښوي
دڅو بدرنګو دلته زور دئ داخبري نه کړي

مونږ چي کباړ ورلېږو مونږته بيرته توري راځي
خودبه زمونږه د وطن مورګاني بوري راځي

مړه بشیره اشناته هم عجیبه سړی یې
دوی په جنت څه کوي دوی له دلته حوري راځي

کینسر

مادرته نه ویل چې سینګار مه کوه
مادرته نه ویل چې ځان مه جوړوه
په شین کمیس دې پاولي مه ټک وهه
ځان نه دستورو اسمان مه جوړوه

مادرته نه ویل مینیږي په تا
دزمکې هر مخلوق چې ودې وینې
ګوته په غاښ پاتې شي ستا حسن ته
ملکي هر مخلوق چې ودې وینې

مادرته ویل ،چې له هوا ځیني هم
ځان پټوه دربانديې ونه لګي
لمر او سپوږمۍ خو بیخي زیردې درته
قیامت رانه شي لاندې ونه لګي

زما دې نه منل مغروري جلۍ
بې شمېره زړونه دې مئین کړل په ځان
خپلو کافرو اداګانو باندې

آن چي رنځونه دي مئين کړل په ځان

سرطان دي ژوند غواړي توده غېږه کې
له سپين مړوند نه دي مچکي اخلي
هسي نه بېله دي کړي ګلي له ما
له خوارہ ژوند نه دي مچکي اخلي.

•••

دروازه مه بندوه!

يو ليونی چي سيپاري يي د سندرو زده دي
يو ليونی چي يي بلا روغي خبري زده دي
چي په شيبه کي د ښايستوو زړو کي لاري کوي
څه جادوګر نه دئ خو ډېري يي منتري زده دي

ها سمندر غوندي خاموشه په خپل لوري روان
ها ليونی چي دي پري ډېري جينکۍ مئيني
د پسرلي د شنو رنګونو انځورګر سړی دئ
ځکه خو دي پري له سر تېري جينکۍ ميني

ها د غزلو شهنشاه ، ها د رنګونو شاعر
په زمکه وګرځيده هم په ليري غرونو شاعر
ستا د ښايست تشبيه پسي ووانه کوره ځيني
خو لا تر اوسه مونده نه کړه له کلونو شاعر

ښايي له نيمي شپي نه وروسته چرته کورته راشي
خو ستادي پام وي له ماښام ، دروازه مه بندوه
او يا وختي راشي ، اوزګار شي ، ليونی دئ کنه!
لکه راته به چي مدام ، دروازه مه بندوه.

ستادښايست تشبيه به نه يي وي موندلي منم
خو ستا به مړو ستر ګو ته نوي ژندګي ورکوي
ستا په لټون پسي چاڼ کړی کاينات به يي وي
تڼاکي پښي به يي د دغي ګواهي ورکوي

ښايي په تن به يي جامي د پټوني نه وي
بهر وريږي به ګلۍ ، دروازه مه بندوه
دا به يخنۍ نه وي ښزاره ، ليونی دئ کنه!
خو ته يي ساته له سيلۍ ، دروازه مه بندوه

••••••

پای